د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د نکریزو پاڼه

شاعر : بازمحمد عابد

خپرندوی : د ناهید کتاب خپرولو موسسه

شمیر : ۵۰۰ ټوکه

د خپریدو نومره : ۹

د خپریدو نیټه : جنوري ۱۹۹ - ۱۳۷۵

د چاپ چارې : دانش خپروندویه ټولنه

د انټېرنیټ په مخ اړو نکی سمسور حبیبي

Download from: aghalibrary.com

له عابد نه مې باز ډېر خوښېږي

د ټولو عابدانو په مخ کې دې دیوال وي. زه زموږ د بهیرونو او زموږ د بنداورنو بازمحمد عابد یادوم. څو ځلې مې ورته ویلي دي چې هلکه بازه ! که نور نومونه درباندې درېدلي دي نو باز خو دې خپل نوم دی او د عابد پر ځای د غزلونو په مقطع کې باز راوله. او بیا له تا نه خو هغه ظالم باز نه جوړوو چې د زرکو او زاڼو او سپینو کوترو په وینو یې منګولې سرې وي. باز په موسکا کې راته وایي چې نه، زه د عابد نوم نه بدلوم. ځکه چې دا نوم پر ما باندې " چا " ایښی دی.موږ نه پوهیږو چې هغه ښکلی څوک به څوک وي چې باز یې عابد کړی دی. باز سره له دې چې عابد پاتې شوی، بیا یې هم دا ښکلې ګناه هر ځل کړې ده چې د غزل او سندرو په زرکو، زاڼو او کوترو یې د خپل خیال منګولې سرې کړ ي دي. د عابد یا په بل عبارت زموږ د بنداورنو او بهیرونو د باز دا ظلم دومره نازنین دی چې انصاف ورته په دوه لاسي سلامونه کوي. زه د باز د ګرانو لوستونکو سره د باز د کتاب په باب نه غږیږم. زه ډېرې خبرې د باز په هکله لرم. باز سره له دې چې د افغانستان د څه کم دوی لسیزې غمیزې نه یې ډېر دردونه اخیستي او د ژوند شپې یې پرې شاعرانه کړي دي. فطرتاً هم شاعر دی د باز یو ورور د روسانو د شوبلې تر زنځیرونو لاندې شهید شوی دی او د بل ورور یوه پښه یې د روسانو په ماین غوځه شوې ده. دا غمیزې او دردونه باز د خپل فطري شاعرانه طبعې په رنګ کې رنګ کړي او غزلیزې کړې دي. باز دا ټولې دردونکې پیښې د تنکي زلمیتوب په تنکیو شیبو کې لیدلې او د خپل تنکي غزل پر اوږو یې را رسولې دي. کله کله د غمونو او دردونو دا بارونه دومره ردانه شي چې د باز د غزلونو پر تنکۍ ملا نه راوړل کیږي. نو خامخا به د ده د زړه پر دمه ځای کې دمه جوړوي. په راتلونکې وخت کې به دا سندریز بارونه په ډېر هنر د غزلونو او سندرو پر اوږو داسې راوړي چې نه یې د غزلونو او سندرو ملاو بماتې شي او نه سندریز بارونه ولویږي. باز لوړ دنګ، سور او سپین سړی نه دی، بس یو موټی لونګ دی چې د غزل د سرېنۍ بالغې پر سینه له زنګیدو سره جوړیږي. سترګې یې د باز غوندې ښکلي دي. کله کله یې سترګې سرې سرې ردې هم پیدا کوي چې د دې لنډۍ د رایادولو او انځورولو هنداري ښکاري:

سترګې دې سرې ردې ردې دي
ردې ردې د ښامارانو سترګې وینه

د نکریزو پاڼه

باز محمد عا بد

د ښارمار ذکر راغی. د مارانو او ښامارانو په لیدو به ځینې خلک بوږنیږ ي خو باز هغه شاعر دی چې په هر څه کې ښکلا لټوي. دی په خپل غزل کې ځای ځای د مار هغه هم د " مارې" د ښایست یادونه کوي. باز وایي چې دمار سترګې مې ډېرې خوښې دي. وایي چې د مار میناتورې شوې څرمن کې چې خدای کوم ښایست ځای کړی دی په ډېرو موزونو ښایستونو کې هم نه شته.

هوده د مینې پر اثر نه کوي
د سینې دښته کې مې ماره ګرځي
لږ مې د مینې په هوده کې واخله
روح مې په بین دې لکه ماره تړم
د روح سرود مې ورته بین غږوي
د سینې دښتې ته مې ماره راځي
د روح بین غږومه چیرته ماره لټوم
اوبو غوندې د غره لمن کې ماره لټوم

پورتنۍ له پرتمه ډکه ښکلاپرستي د باز ځانګړنه ده. " له سرو سترګو تر سرو سترګو" په شعر کې یې د ماشومتوب په خاورو او دوړو د سرو سترګو انځور کښلی. په ځوانۍ کې یې د هغو سترګو انځور کښلی چې د ژوند په هینداره کې یې د نظر له لاسه د ارمان تصویر ښوییږي. باز ته د ده د غزل په سر سوګند ورکوو چې د سرو سترګو دا ډول لوبې به پریږدي. عابد دې د تورو او کلماتو سرکش ښامار ته د غزل شپیلۍ وغږوي او د ښایست لعل دې ترې راولجه کړي. باز دې د خیال سترګې د سندرو او غزلونو پر مرغانو سرې کاندي.
موږ څه کم دوی لسیزې غمیزې او تراژیدۍ ځپلي خلک یو خو د غره غوندې دروند انتظار مو د صبر پر اوږو تر دې دمه رارسولی دی.

ستا د راتلو په انتظار انتظار
داسې ولاړ یم لکه غر وي غلی
ستا د وصال روژه په خوله پاتې یم
د یتیمانو خو اختر وي غلی

لکه مخکې چې مو وویل باز فطرتاً د شاعرانه اروا څښتن دی. دی له یوې ورځې نه بلې ته پسې غزلیز کیږي. له هغې ورځې را په دې خوا چې زموږ د ادبي بنډارونو او افغان ادبي بهیر غونډې پیل شوې د باز غزل د څپو د ښایستونو ګلګڅونو ته منګولې وغځولې.

حالات لولپه دي خو دا چې باز د وطن ګلورين او غزليز پسرلي " استاد محمد صديق پسرلي " د هنر تر سيوري لاندې راروان دی، نو دې لولپه حالاتو ته هم د غزل د ښايست وسله نه ږدي.

سيوری مې په سر د پسرلي ګرځي
شکر د وږمو د بهير غړی يم

د باز غزل لکه د ګلاب پاڼه، لکه د پرخې دانه هم ښکلی دی او هم روڼ او بې تکلفه.

په رخسار يې لکه پرخه نه ځايږم
دا رنګينه حادثه مې لکه لمر خوري

باز د يوې شاعرې او مضطربې اروا څښتن دی. ځان لا زړی ورته ښکاري، د شين کيدو او غوړيدو هيله لري. سره له دې چې د غزل غوټۍ يې په غوړيدو دي، خو ويريږي چې ښکلي به مې وغورځوي:

مه مې غورځوه د غورځيدو نه يم
و مې کره شين به شمه زړی يم
مينه غواړم، زړه غواړم له ښکليو نه
سوال يمه لا هغسې نيمګړی يم

د باز په شخصيت کې مينه، ښکلا پرستي، عاطفه او صميميت ټول راټول دي. او دا ټول هغه څه دي چې د شعر روح او وجود ترې جوړيږي. باز د ماشومتوب خاطرې او د ژوند ځينې پيښې لري چې موږ په بار بار اوريدلي دي او بيا يې هم په ادريدو نه مړيږو. د ماشومتوب يوه عاطفي کيسه يې ددې له پاره دلته را اخلم چې د ده په شاعرانه شخصيت او د ده په اوسنيو او راتلونکو شعرونو کې به يې عاطفي اغيز خامخا وي:

" باز ماشوم و. د نورو ماشومانو غوندې د ګوډي پران لوبه خوښه وه. خپل ګوډي پران ته يې د دې له پاره ښيښه يي تار اچولی و چې له ګوډي پرانونو سره د جنګ په وخت کې يې تار پرې نه شي. ګوډي پران يې هوا ته جګ کړی و. ګوډي پران د وږې شاهين په شان حملې کولې، په چل چل يې ښيښه يي تار را کش کاوه. د ګوډي پران ښيښه يي تار يې د بل ماشوم د ګوډي پران پر ځای په آسمان کې د يوې الوتونکې توتکۍ له تنکۍ مرۍ نه راتاو شو. د تار د کشولو سره سم بې سره توتکۍ لاندې راپريوته او د باز په پښو کې ولويده. بازد توتکيو په باب ډېرې کيسې اوريدلې وې، چې دا فقيره مرغۍ ده. د دې مرګ لويه ګناه ده. د باز په سترګو کې اوښکې راغلې. د ښيښه يي تار غوټه يې له لاسه ولويده او ګوډي پران

لکه د وزر ماتي مرغه ورو ورو رالویده او اخر په یوه ونه کې بند شو. باز توتکۍ په کوچنیو لاسونو کې راواخیسته. نور ملګري ماشومان یې هم دهغې په ویر کې له ځانه سره ملګري کړل. د باز په سترګو کې اوښکې پنډې وې او نورو ملګرو د ده په سترګو کې غمګینې او وارخطا سترګې ګنډلې وې. باز توتکۍ په کفن کې پټه کړه. کوچنوټي قبر یې ورته جوړ کړ او ماښام کې یې حلوا پسې وایسته."

دا عاطفه او داسې نورې ډېرې عاطفې د باز په روح کې روانې دي. زه خو فکر کوم چې دا عاطفې او دا تراژیدۍ د باز په غزل او شعر کې لا پوره پخې شوي نه دي. دی به په غزل او شعر کې هغه وخت قیامت کوي چې دا عاطفې، مینې او تراژیدۍ پوخوالي ته ورسوي او خامې ترې پاتې نه شي.

د پسرلي په وخت کې له کلیو نه غرونو او شنو ورشوګانو ته کډې لیږدي، نوکله چې د باندو میلې ته نیژدې شي، پیغلوټې نجونې له قافلې نه د هوسیو په څېر په ترپکو ترپکو مخکې شي. په ترپ کې میلې ته ځانونه ورسوي. د باندو جونګړې او ښیرونه جارو کړي. اورونه بل کړي او له چینو نه اوبه راوړي. همداسې د باز د شعر قافله ورو ورو روانه ده. د خیال پیغلوټې نجونې یې په غزلیزوګامونو د خپل شعر له قافلې نه وړاندې روانې دي چې د ښکلا په ورشو او میله کې ورته دمه ځای وګوري.

د شیبو شاعرانه کول د شعار دنده ده. باز باید د ښایست او آرمان توتکۍ د شعر په دم راژوندۍ کړي. د باز د غزل مسرې باید د هغې شوبلې د زنځیرونو انځور وي چې زموږ شیبې او آرمانونه یې شهیدان کړي دي.

د شهیدو ګلغوټیو جنازې وي
زموږ کلي ته یې غیږ کې باغوان راوړي

د باز په غزل کې ساده ګي او رواني ده. ساده ګي په دې مانا نه چې ګنې شعریت په کې نه شته. زما مطلب دا دی چې بې ځایه او بې مفهومه ابهام، له ښکلا نه لیرې پیچلتیا او تصنع په کې نه شته. د بې مفهومه ابهام هغه پیچومی نه لري چې د لوستونکو او اوریدونکو د ذوق پښې په کې تناکې شي. ډېرې غزلې یې په لنډ او روان بحر کې دي. د غزلونو مسرې یې هم ډېر ځله له پنځو بیتونو اخوا نه اوړي. د شاعرانه طبعې الوت یې د هغه نه سترې کیدونکي مرغه غوندې نه دی چې تر ډېره په آسمان کې وګرځي راوګرځي. بس د باز د شاعرانه طبعې الوت د زرکې غوندې لنډ دی او یا کله کله د باز د غوټې په څېر تیز او لنډ دی چې په لنډه فاصله کې په یوه غوټه ښکار کوي.

د باز په غزلونو کې د غمیو په څیر تراشلي او ځلیدونکي مسرې ډېرې پیدا کولی شو. که په ډېرو غزلونو کې یې ښکلې او د لوړ شعریت لرونکې مسرې نه وي هم خو له شعریت او شاعرانه مفهوم نه به ډېرې راپریوتې هم نه وي. باز خپل نوي ویل شوي شعرونه موږ ته تل په ویره ویره اوروي. غزلونه یې ډېر ځله زموږ د ځوانو شاعرانو، لیکوالو او کره کتونکو ملګرو هر یو نورالحبیب نثار، مصطفی سالک او حنیف خلیل د ډېرغوڅ خو ښکلي نقد (کره کتنې) د ځلوونکو او تراشونکو تیشو له تیرو څوکو تیرېږي. ځکه خو د باز په شعرونو کې کمزوري شعرونه لږ موندل کیږي. د باز غزل زموږ د بهیرونو او بنداړونو نور ملګري هم اوري او لولي، خو هغوی لږه ګوزاره ورسره کوي او کله کله یې پر کمزورو مسرو هم سترګې پټوي.

د باز په غزلونو کې یو بل ټکي ته هم اشاره باید وشي چې هغه د سندریز وزن درلودل دي. د دې ډول وزن ځوند په موسیقۍ کې یو په دوه کیدای شي.

څه ښه و چې جانان په تصور کې راته ویلې

راځه کینه دمه شه زوروره چیرته ځې؟

د شر د سوداګرو قافلې بازار ته راغلې

لږ وار وکړه د امن پیغمبره چیرته ځې؟

د باز له شعر نه زیات شعریت د ده په ناسته او د ژوند سره په شاعرانه برخورد کې دی. باز لا د خپل زړه کولپ د شعر او غزل په کیلي نه و خلاص کړی چې صوفیانه او رندانه شعرونه به یې لوستل. د خانقاه په تاخ کې به یې ډیوې بلولې، اوږدې شپې به یې په الله هو رونولې او د خپل پیر په صوفیانه کړۍ کې له ټولو مریدانو کشر مرید و. په غزلیز باګرام کې د افغانستان د اواره او مهاجرو شاعرانو ځینې شوزنده او له درده ډک شعرونه به یې د سپیدې، خپلواکۍ او ځینو نورو خپرونو کې لوستل او د ده پر شاعرانه روح یې سندریزه زلزله ور وسته. د استاد پسرلي د زرکې ترانو یې روح د ستړې زرکې په څیر د وطن په سردرد کې وګرځاوه. د استاد شپون د مور ویرنې شهکار شعر په وار وار وژړاوه.

"میلون شپږ شلې نه دي چې په ګوتو دې شمیرلې"

د مور د ویرنې دې نیم بیتي د ده د یاد او احساس پر دښته د وطن یو نیم میلون شهیدان د ع=غاټولو په شان راوټوکول. ده په دې غاټولو کې د خپل شهید ورور انځور لټاوه چې پر سترګو به یې د اوښکو مهر ولګیده او د یوې سلګۍ سره به ترینه ټول لکه په غشو لګیدلي کبلي وتښتیدل. "بس د لمدو ختو لږې اوبه دارو وي"

د شعر د ښاپیرۍ د جادو د شین ښکي طوطي له منبوکې یې کیلي راواخیسته او د خپل زړه کولپ یې پرې خلاص کړ. د نقشبندیه پیر په ځای یې د شعر له پیره نه لاس نیوی وکړ:

تعبیر یې د سندرو د مغان له پیره غواړم
بیګاه راته په خوب کې پرښته وه چې راتله

د خانقاه پر ځای یې په خپل زړه کې د شعر ډیوې ولګولې:

دا چې زه یې سره کمبه کړم، آتشي جمال د چا و؟
ابدي فراق یې راکړ، د یو شپې وصال د چا و؟
زما ختې تمنا د میخانې د جام لرله
خو کوزه یې د جومات کړم، په لمسون کلال د چا و؟
د خستې په ښاریه کې د نیستۍ سودا وه ګرانه
د عابد خودي په تن وه، وایه نور مجال د چا و؟

د باز په غزلیزه شاعرۍ باندې "د نکریزو پاڼه" نوم ایښودل شوی دی. د نکریزو پاڼه په خپل ظاهري شین والي کې د ښایست باطني سره هم لري. د نکریزو پاڼه شاعرانه ذوق ته عجیبې ښکلاوې وریادوي. د ناوې سره لاسونه، د اختر ورځ او یا پر نکریزو ټکور شوي لاسونه. د نکریزو پاڼه دا ټولې ښکلاوې په خپلباطن کې لري. خو دا باطني ښکلاوې هغه وخت ظاهروي چې د نکریزو پاڼه پاڼه په درغنې میده کاندي. د باز د غزلونو ډېر غزلتوري د نکریزو د پاڼو په څیر د حالاتو او کیفیاتو په درغنې میده شوي او د هنر د ناوې لاسونه پرې سره شوي دي.

د باز د شاعرۍ د بنیاد خښته د کابل له درد او د باګرام د تغزل له رنګ نه جوړه شوې ده. خدای (ج) دې باز ته ډېر عمر ورکړي چې د غزلپرستو او شعر پرستو له پاره د سندرو غزلیزه او ښکلې مانۍ ودانه کړي.

چې مې شعور ته راشي شعر راکوي
په لاشعور کې پرښته ساتمه
په مخه مو ژیړي ګلونه
کاروان، پیښور، ناصر باغ نوی کمپ
۱۳۷۵/۹/۲۶
۱۶/۱۲/۱۹۹۶

منګی

قــــدر يې زيات شو چې ستي شو په شرر منګی
ځکه يې پيغلې جينکۍ اوس وړي په سر منګی

له پــښو نه سره پورې وا خلي خوشبويي د جونو
کــلاله ځــرنګ دې جــوړ کــړی په هنر منګی

غوږ يې د زړه درزا ته ايښی وي په ترخ کې د يار
د پټــو زړونـــو بـــا خبـــر وي بې خبر منګی

په ډکيدو کې چې ختې حت په خندا و خنديږي
مظاهره کړي د وصال په مازيـــګر منـــــګی

مــــور ته به څه بهانه کوې ته لا وړه يې ګلې
چې د اشـــنا سره دې مات کړ په ګودر منګی

عابده کاش چې ته کلال وای جوړول دې منګي
له خپـــــلې ختې نه دې جوړ وای د دلبر منګی

د نکريزو پاڼه

باز محمد عا بد

هوش مې د مينې

هوش مــــې د مينې په لمسون له ليونو پسې ځي
تــــرې نظر مې ستا د چم کړو کوڅو پسې ځـــي

زه خــــو دا ستا د غمه شپه او ورځ لوګی لوګی یم
دا خـــــــلک نه پوهيږي هسې سپيلنو پسې ځي

دا دې کوم راز دی د وصــــــال و فراق نه پوهيږم
ګله چې پرخــــه ستــــــا له مخ نه پلوشو پسې ځي

راته نسيم پـــــه غوږ کې وی چې پرې غزل وليکه
د يـــار خـــوشبو دې ما سره غږد پردو پسې ځي

شور ګډ شو خلکو وی چې حسن په بازار خرڅيږي
عـــزيــــز د مصر د يــــوسف د اخيستو پسې ځي

دا قـــــافـــله د ژوند عابده مخ په وړاندې درومي
څـــومـــره چې تللي دي راغلي به په تلو پسې ځي

د نکريزو پاڼه

باز محمد عا بد

چې د لیمو نه مې نظر

چـــې د لیـــمو نه مـــې نظر پریوزي
د ښکلـــیو قدر مـــې په سر پریوزي

ستا د وصال د یـــوې شیبې په بدل
داغ مې د هجر پـــــه ځیګر پریوزي

د انتـــــظار پـــر للمو للمو دښتو
تـــور مې اوبه شي له بصر پریوځي

ارمان مې داسې نیمه خوا پاتې شي
لکه چې بـــــې دیدنه لمر پریوزي

تـــه چـــې د کاڼي زړه سینه کې لرې
زمــــا د آه بــــه څــــه آسر پریوزي

اوس په هجران کې د وصال یادونه
لکه مرهم چې پــــــه پرهر پریوزي

هسې پـــــنا شوې د عابد له سترګو
لکه چې ستــــوری د سحر پریوزي

د نکریزو پاڼه

باز محمد عابد

چې تصور مې

چې تصور مې د صنم ورانيږي
جوړ سلسله د هر ستم ورانيږي

په دغه بر کلي کې ښنګه شور دی
ملګرو بيا د چا حرم ورانيږي

خدای خبر بيا دې په زړه څه تيريږي
چې ستا کوڅه کې مې قدم ورانيږي

عابده داسې ښاريه کې اوسې
وران خو لا څه چې پکې سم ورانيږي

د غیرت او ننګ

د غیرت او ننګ جذبه لا د پښتون شته
څو يې تن کې لا يوه قطره د خون شته

که ماضي په زنده ګۍ جرې سرې کړي
اميد ونه مستقبل ته د ژوندون شته

د ظلمت تیارې که شته دی لا خو شپه ده
پسې وار هم د روښانه سباوون شته

که فلک رابانديږ خپلې چارې وکړي
راته زیری د زما د او ښتونه شته

که د وخت سپيرو موږ سره جلا کړو
دې ټوټې ټوټې اولس ته پيوستون شته

که منزل څومره مشکل وي پروا نه شته
حوصله لا له عابد سره د يون شته

چې دې ښکالو

چې دې ښکالو اوس د قدم نه راځي
خدايږو زما قدم کې دم نه راځي

نسيمه پل دې په سر سترګو زما
خوشبو دې راوړه خو صنم نه راځي

د تخيل په بازار مست ليونى
اوس دې کوڅې ته د حرم نه راځي

دومره بلد د حادثو سره يم
چې اوښکې هم چيرې په غم نه راځي

د کايناتو د وجود ښکلا يې
پيرزو دې ولې د کرم نه راځي

هسې ديدن ته ليواله يې ته
عابده ښکلي ستا په چم نه راځي

باز محمد عابد

غزل

د فاصلو لړۍ د مینې له نظر تیریږي
احساس مې وبوږني سلګۍ شي له بصر تیریږي

د لاشعور نه یې شعور ته کډه کړې ده نن
جانان زما د سینې دښت کې په سفر تیریږي

تکل مې کړی دی چې لاړې د ګودر ښکلووم
ډېرې پیغلوټې په دې لار هر مازیګر تیریږي

د زړه جونګړه ورانوي په یو نظر د جمال
زما قاتل زما په سیمه بې خطر تیریږي

د سباوون زیري د لمر بانه موسکي کړي
د سپیدې څرک چې د افق په سم او غر تیریږي

دا چې زه يې سره

دا چې زه يې سره لمبه کړم، آتشي جــــمال د چا و ؟
ابدي فراق يې راکړ، د يـــوې شپې وصال د چاو ؟

زنـګيد مه، تـا ويـد مه د پريـشانه زلـفو تال کـې
اوس چې خـاورو کې لغړيږم، ها رنګين خيال د چاو ؟

زمـا ختـې تمنـا د ميــکدې د جـام لرله
خو کوزه يې د جومات کړم، په لمسون کلال د چـا و ؟

د هستۍ پــه ښـاريه کې د نيستۍ سودا وه ګرانه
د عابد خودي په تــن وه وايــه نور مجال د چاو ؟

باز محمد عابد

غزل

پرخه د سحر چې د ازغو په څوکو وزانـــــــګي
اوښکې مې ډیوې شي د ښو په څوکـــو وزانګي

دا د زړه کنډول به ورته ډک له ارمــــانونو وړم
یار ته چې د عشق د منارو په څوکو وزانـــګي

ډک د تخیـــل د رنګیـنیـو فطـــــرتي غزل
پریږده چې جانان ته د بارخو په څوکو وزانګي

طمـعه د عابد لا په زړګي کې هسې طمعه شي
لمر چې د غروب د تورو غرو په څوکو وزانګي.

زما قدم چې

زما قدم چې د وصال تر کوره ونه رسي
د یار ښکلا دې د کمال تر کوره ونه رسي

چې پرې زما د امیدونو ستوري ونه بریښي
د رخسار خط دې د هلال تر کوره ونه رسي

چې بوربنیدلي احساسات مې نیمه خوا پاتې کړي
ستا مرتبه دې د جلال تر کوره ونه رسي

چې دې منګی ما سره لوبو کې مات شوی نه وي
ستا سوال زاري دې د کلال تر کوره ونه رسي

ملګرو بڼ کې به ګلونه د غزل وکري
د عابد خیال که د زوال تر کوره ونه رسي

جلوې وې ستا دحسن

جلوې وې ستـــــا د حسن طبیعت یې بوږناوه
ارمـــــان چـې زما سترګو د لیدو توان نه لاره

جـــذبه د مینوشۍ لا خوره نه وه په مخفل کې
ساقي چې به هر کس په سترګو سترګو کې ځاره

ستا غم ته یې د زړه کورکې ځای ورکړلو دلبره
پښتون و زمـــــا عشق د پښتنو پت یې پاله

((هر څو که د هجران ځینې وصال زرغونه کیږي
دهقـــــان د ازل کاش چې دغه تخم نه کاره))*

ما وی ګنـــــې عـابد یې روان کړی دی توبې ته
زاهد په خلوتـــــګاه کې په جـــامونو ونمانځه

* د د حافظ شیرازي د یوه بیت ژباړه

د نکریزو پاڼه

باز محمد عابد

غزل

((د شفق په حنا سره کړل د فطرت ناوې لاسونه)) *
بیا ساقـي ورته تیار کړل د کوثرو ډک جامونه

طلایي وړانګې خورې شوې د اسمان په کنارو کې
طبیعت دی بـوربنیدلـی د مستۍ وایي رازونه

د ماضي په تورو لارو د روښـــان سفر منزل دی
مستقبل د حال په ژبه د خــوښـــۍ کړي اوازونه

تخیل چې افاقي شي انسان ووځي لـه هستۍ نه
د نیستۍ هسې مقام کې یې حاصل شـي مقامونه

دی قدرت په کایناتو مهربان دومره عـــابـــده
د سپرلي تازه هوا ده پرې تازه شول دمـــاغونه

* پورتنی نیم بیتی د حمزه بابا(رح) دی

زما عشق او ستا

زما عشق او ستـــــا ارمان غاړه غړې
لکه وي چـــــې ټول جهان غاړه غړې

احســا سات مې په حالاتو ژړا کاندي
اوښــکې، وينې او چشمان غاړه غړې

دا هم وخت دی چې پر ما باندې تيريږي
زمـــــا ژوند او ستا هجران غاړه غړې

هـــغه هـــــم راته ياديږي د زړه سره
چې بـــــه سيل ته وو روان غاړه غړې

دې ته هم مې د اميد سترګې په لار دي
بيــــا عــــابد شي او جانان غاړه غړې

د نکريزو پاڼه

باز محمد عا بد

په تصور چې مې دلبر

په تصور چې مې دلبر خور شي
لکه یلدا کې چې سحر خور شي

چې په ښکلو کو مې نظر خور شي
خاطر مې ستا د زړه پر سر خور شي

پالي زمونږه پال چپه لیدلی
خیر یادوو خو راته شر خور شي

باګرامه* ستا په حسن خیزه سیمه
سروش د شعر راشي اثر خور شي

دیدار دې هسې پر عابد ولګي
لکه پر ستورو چې قمر خور شي

باګرام د پیښور زوړ نوم دی

څڅوب د مینې

څڅوب د مینې مې هر دم د زړه له بام پریوځي
لکه چې څاڅکی څاڅکی مې له سوري جام پریوځي

د محبت د ازموینې دې دستور ته ګوره
چې درنې هیلي مې ستا پښو ته له ناکام پریوځي

تیارې خو ښې دي د رڼا ترینه امید کیدای شي
پر سپین رخسار چې تاوې زلفې لکه لام پریوځي

داسې محفل کې به مینا پیغ ګډیدو نه راځي؟!
چې د ساقي د سترګو ست په خاص و عام پریوځي

تقسیم د میوو د یچې کیږي د آدم په بچو
په داسې حال کې هم عابد د چا له پام پریوځي

ستړی ستړی

ستړی ستړی ریز مریز یم، د ژوندون په ګرانه لاره
لکه غروي چا ته شوی، د جنون په ګرانه لاره

د وجود په ملکیت مې، د خونریز لښکر قبضه ده
هر احساس زخمي زخمي دی، د بدلون په ګرانه لاره

دا منزل مو ناتمام دی، دغه هیلي سرابي دي
د نایاب سفر په لوري، د ګردون په ګرانه لاره

قافله د پښتنو ده، د دې دور بې سالاره
یو جرس د نهیلو شي، تل د یون په ګرانه لاره

یو اقرار دی بس عابد ، چې پښتو سره مو کړی
که مشکل وي هم یې پالو ، د پښتون په ګرانه لاره

د نکریزو پاڼه

باز محمد عا بد

ګلونه وشینده پسرلیه

ګلونه وشینده پسرلیه لر او بـــر پـــه سیمه
غوټۍ غوټۍ په غوړیدو شـــه د دلبر په سیمه

د نظرونو په تـــارونـــو التفات د مینې
ټوله فضا شي سندریزه د نـــظر پـــه سیمه

راځه چې نن د رقیب مخکې یو له بله زار شو
خور چې زما او ستا د میـنې شي خبر په سیمه

یوه حـــیا داره پښتـــنه وه بې اسرې ملګرو
وه غریو نیولی چې راتـــلله د خیبر په سیمه

د نکریزو پاڼه

باز محمد عا بد

لا د عدم په غیږ کې

لا د عدم په غیږ کګې پروت وم چې شرر دې راکړ
کالبوت د مینې ته اشنا د روح وزر دې راکړ

زما معصومې ارزو سترګې لا پرانیستې نه وې
لا مې کتلې درته نه و چې نظر دې راکړ

ما د ساحل په لویه لاره کې ستا لار څارله
د ژوند بېړۍ دې راته کړه سمندر دې راکړ

د زړه پر باغ مې میلمنه شوې د جمال پرښتې
د عشق کعبه دې راته وښوده ثمر دې راکړ

لا د السته په سجدو ومه د نور کعبې ته
لا مې سر نه و پورته کړی چې خبر دې راکړ

د تخیل په رنګینو کې مې غزل غزل شوې
احساس د شعر دې راته کړلو هنر دې راکړ

د نکریزو پاڼه

باز محمد عابد

ستا نه لوګی

ستا نه لوګې ستا له نظره لوګی
لکه چې پرخه شي له لمره لوګی

نن خو دا تنده ماتومه ساقي
توبه مې شه ستا د ساغره لوګی

د جانان غم په ښادۍ نه ورکوم
دې عاشورا نه شه اختره لوګی

د کوم شپونکي کوډلې اورا خيستی؟
هلته چې وختو له غره لوګی

په کې حمزه غونډې هستي او سيده
عابده ځان کړه له خيبره لوګی

غزل

ګله چې ستا پر مخ رابنکون خور شي ښکلا خوره شي
زما د زړه د هر ارمان په تن کې ساه خوره شي

چې د خپل ذات په آيينه کې خپل تصوير وګورم
احساس مې وبوربني پر ذهن مې رڼا خوره شي

ذرې ذرې پلوشې مستې مستې وځليږي
چې د سحر په افق سترګه د سبا خوره شي

د تصور فضا مې ټوله سندريزه ښکاري
چې د جانان پر سرکو شونډو مې موسکا خوره شي

په يو نظر کتو يې هسې بې هوشي خوره کړه
کله جلوه د کوه طور چې په موسى خوره شي

غزل

ستا چې لیمو کې نظر غـلی ښکاري
ما ته زما د مینـــې ثـــلی ښکاري

قـــدم قـــدم یې ښکلو مه خاورې
پر دغې لار مې جانان تللـی ښکاري

زه د ساده حسن ســـاده مئین یم
ساده چې وګوري لا ښکـلی ښکاري

یوه شیبه چې په کې نـــه وي جانان
خاورې ایرې مې د زړه کلی ښکاري

چې کومې لارې د جانان لارې دي
عابد پر هغې لارې پلی ښـــکاري

غزل

ستا انتظار خوند کوي
تنده خمار خوند کوي

مینه کې رقیب منم
ګل سره خار خوند کوي

تل په اضطراب کې وي
زړه ناکرار خوند کوي

وي چې منصوري جذبې
ژوند خو په دار خوند کوي

ستا د التفات نه زار
ګوره نګار خوند کوي

تا وې ژوند به وبایلې
ما وې قیمار خوند کوي

غزل

پر تخیل چې مـــې انځــورنــــه شي
هـــــادې زمـــا د سترګو تور نه شي

چې تقدس په لیمو پور نـــه شـــي
مئینه مینه خو پـــه زورنـــه شـــي

چې مې مزل ستا تر منــــزلــه رسي
زما قدم دې په بل لـــور نـــــه شي

د زړه پر وران کابل مې څه لــه راځې
په کنډوالو کـــې آرام نــور نه شي

چیرته چې زړونو کې الفت او سیرېږي
هلته کې ژونـد په شر و شور نه شي

عابـــده څـــه چې ترینه کړه وکړو
په دې وطن کـــې کلی کور نه شي

د نکریزو پاڼه

باز محمد عا بد

غزل

ستا التفات مې کړي نظر پـــه ځمـکه
باڼه مې لـــګي د نظر پـــــه ځمـــکه

چـــې مـــــې سبا آرمان په دار ځړوي
هرګز دې رانه شي ســـحر پـــه ځمکه

اوښکو ثمر به ترینه ځـــــه واخـــلمه
تاسې خو کړی د غم کـــــر پـــه ځمکه

روح به مې خاورې ســــــره مینه لري
چې راته خوب راځـــــې اکثر په ځمکه

*تر هندوستانه یــې شغلې خورې دي
داسې روښــــــان و لکه لمر په ځمکه

هغه چې تـــــــل یـــې تخیل سروش و
اوس اوس اوده شـــو د خیبر په ځمکه

* حمزه بابا یادوم

غزل

جانان مې داسې په ځيګر وي غـــلى
لکه ليمو کې چې نـــظر وي غـــلى

ستا د راتلو پـــه انتـــظار انتظار
داســـې ولاړ يـــم لکه غر وي غلى

خود بـــه منګى دا ستا په سر ماتوي
چـــــې ليونى دې په ګورد وي غلى

ستا د وصال روژه په خوله پاتې شوم
د يتيمانـــــو خـــو اختر وي غلى

زما په غم داسې جـانــــان وي غـلى
لکه د بر په غم چې لـــــر وي غـــــلى

غزل

ته خو به لاړ شې ستا تصویر مې له نظر نه ځي
جانانه ستا یاد مې د څریکو له پرهره نه ځي

ما مې د زړه په شش محل د ښکلي نوم لیکلی
په هر ساه کې ځي راځي خو له ځیګره نه ځي

د ګل په غیږه کې او سیږي خو آرام نه لري
د پرخې مینه ازلي ده چې له لمره نه ځي

موږه د خپل آرمان په څلي باندې ډېر وژړل
خو دا ناسازې لا د وخت له ستمګره نه ځي

اوس نه بنګړي ماتیږي، نه د پیغلو جونو منګي
اوس هغه شور زموږ د کلي له ګودره نه ځي

غزل

ستا له نظره چې نظر اخلم
لکه سپوږمۍ رڼا له لمر اخلم

د دیدن خوند په مازیګر اخلم
د هجر داغ دې په ځیګر اخلم

مست لیونی دې په کوڅه درغلم
ستا د در کاڼي به په سر اخلم

لکه فرهاد ستا په شیرینه مینه
په اجاره دې آشنا غر اخلم

د سباوون د سپیده دم سر سم
د دوران غم په هر سحر اخلم

د غزل توري دې د مخ خالونه
جانانه زه ترینه اثر اخلم

غزل

جانانه ستـــا له مخه نور وريږي
که تجــــــلی د کوه طور وريږي

د زړه پـــر للمه مې د وصل باران
څه په مستۍ څه په سرور وريږي

د تاک په ونه يې ستا نوم ليکلی
چې د ليمو نه دې انګور وريږي

دار به د خپلې غاړې هار جوړوم
پر ما اسرار لکه منصور وريږي

باز محمد عا بد

غزل

د لمرڅولۍ کې د رڼا ناوې په وينو سره ده
د بې وسۍ نه توری لړې د ماښام ښکلوم

د ژوند په هر پړاو مې څو ځلې تندۍ مات شوی
د خپل آرمان د قتل جرم له ناکام ښکلوم

زما د څنګ ملګري نور زما وجود نه مني
لکه سقراط په افتخار د زهرو جام ښکلوم

زما په برخه آزادي لويه ګناه ده منم
لکه د زرکې د ښکاري خور شوی دام ښکلوم

د پښتونخوا د غرو سرونه مې په وينو سره دي
زه هم قاتل يم او مقتول يمه الزام ښکلوم

غزل

غزل غزل شه چې دې وليکم غـــزل جـــانان
د ښکلا غوټې دې راسپړم ول پـــه ول جانان

لکه په وريځو کې سپوږمۍ چې پټېږي کوي
داســـې لـــه مـــانه پټوي مخ په وربل جانان

زه به د مينې دې معصـــوم آرمان ته څه ووايم
چې رانه غواړي په يــــوه لحظه څو ځل جانان

زه د خزان او د بـــهار څـــه منتبـار خو نه يم
ما مې په زړه داسې کـــرلـــی لکه ګل جانان

د ښکليو خوی د غلچکو دی پـام کوئ ملګرو
داسې يې زړه له عابد وړی لکـــه غـــل جانان

غزل

د زړه هینداره مې هغه ماتوي
د ځان تصویر څه په مزه ماتوي

داسې سپرلي سره یو ځای مه راځه
چې مې ډېر عمر توبه ماتوي

د دیون تندې دومره واخیستمه
چې مې په شین سهار روژه ماتوي

د ښکلیو یاد د غلچکیو په څیر
په سپینه ورځ د زړه جندره ماتوي

((کاروان)) د ژوند په سترو سترو لارو
په کوم حسین پړاو دمه ماتوي؟

مستان یې څښي د مستۍ زور ښیي
د شیخ په سر تشه کوزه ماتوي

غزل

چې مې جانان د زړه لــــــه تـله وتی
بس تغزل مې له غــــزلـــــه وتـــی

د ژوند منزل ته بــلا لار پــــرتــه ده
د روح کـــاروان مــــې له مزله وتی

په کومه لاره بــه دې لاره څـــــارم؟
اوس چې قدم مې ستا له پــــله وتی

د ګل رخسار د رنګینیو پــــه پسې
د زړه بلبل مې له ګــــوګــله وتی

ستوری د بخت یې پر آسمان ځلیزي
چـــې روغ تندی ستا له درشله وتی

باز محمد عا بد

غزل

ډېرې ارزوګانې مې په خوږ زړه کې نیمګړې شوې
ځوانې حوصلې مې د امید په لار کې ستړې شوې

تا چې سوداګر د مرګ په پوله د ژوند کینول
پوه شو مه باداره چې اوبه دې راته خړې شوې

نشته د تقدیس یوه ذره ستا په ناپاک وجود
ستا قلیتي چارې اهریمنه پوروړې شوې

موږ د سباوون زیري ته ټول وجود غوږ ونه وو
غیږ کې د سحر مو په نصیب د ماښام لړې شوې

ستا د محلونو نه کوم تپ موږ ته راغلی دی
ستا له لاسه ورانې چې د خوار ولس جونګړې شوې

غزل

یوه سلګۍ مې له اجل نه ستنه کړې په زور
سترګې مې برندې پاتې شوې د جانان په تمه

د زړه پر للمه مې د لګو لښته وکرله
لاس په دعا لکه دهقان یم د باران په تمه

د زړه کوترې مې اولت کړی د عرش په لورې
شیبه شیبه مې انتظار ده د یزدان په تمه

د نهیلو د جرس کړنګ شي د منزل په طرف
کاروان مې لوټ شي لویه لار کې د ښاروان په تمه

غزل

زنده ګي مې ښکلې ډېره په هنر خوري
ليوني يې د درکـــانې زما سر خوري

په رخسار يې لـــــکه پرخه نه ځايېږم
دا رنګينه حادثه مـــې لکه لمر خوري

دا معصوم آرمان مـې څنګه ليونی شو
د وصال په شپه غمــونه د سحر خوري

څه وجود مې د وطـــن غمونـــو وخوړ
څه چې پاتی دی هغه رانه دلبـــر خوري

غزل

د حسن زور دې لا په سترګو کې دی
ښکلی انځور دې لا په سترګو کې دی

راته کوي چې د مستانو کیسې
کوم شرابخور دې لا په سترګو کې دی

اوس خو زه هو مره بې ادبه نه یم
ګله ! پیغور دې لا په سترګو کې دی

ښنګه به نن د بوسې سوال وکړمه
پرونی پور دې لا په سترګو کې دی

د دیدن تنده م ښن نه ماتوي
ساغر نسکور دې لا په سترګو کې دی

غزل

سکنی مـــاښام یم مازیګر خو نه یم
د پیغلو جونو مست ګودر خو نه یم

چې بې له تا مې سترګې نه غړیږي
ستا پــــه ککیو کې نظر خو نه یم

چې د جانان په بام دوره دوره شي
زه د کوتـــــرو څه لښکر خو نه یم

بې ارادې مـــــې چې بانه رپیږي
د چا په لاره کـــــې سفر خو نه یم

څه له تپوټکې او تعویـــزونه کوې
زه د پیریانو څه لښـــــکر خو نه یم

باز محمد عا بد

غزل

لکه د درد مې په پرهر کې ویښ شه
د مینې خوب شه په نظر کې ویښ شه

چې د رڼا د قافلې جرس شي
د سپیده دم په خیر سحر کې ویښ شه

لکه شپونکی د ژوند شپیلۍ غږوي
دا سې په نیمه شپه په غر کې ویښ شه

د ګلرخانو چې نظر ماتوي
د سپیلني په خیر شرر کې ویښ شه

چې د عمل په ډګر وځلیږي
پښتون زلمی شه په سنګر کې ویښ شه

غزل

زړه مې ستا یاد کې دم په دم ښوېږي
پـــــر وچــــــه ځمکه مې قدم ښوېږي

د رقیب نــوم مې چې غزل کې را شي
خدا یږو لــــــه ګــوتو مې قلم ښوېږي

نور به کچـــــکول ورځنې نه جوړوم
چې مې لــــــه لپــــو نه کرم ښوېږي

ښــــــایـــــي د درد به حوصله نه لري
چې لــــــه زخمونو مې مرهم ښوېږي

غزل

ستـــا پـــه نـــظر د نظر تار تړمه
ځـــو مـــــره اسان په هوا لار تړمه

لږ مې د مینې په هوده کې واخــله
روح مې په بین دې لکه مار تـــړمه

نه دې راځي خو د راتلو په تــــمه
غوټې په زړه د انتـــــــظار تړمه

که مې مراد په زیــــارتو شي پوره
زه به دسمال پــــــه هر منار تړمه

له زخمي او ښکو نه امیل جوړوم
په جنــــتي غــــــازه زنار تړمه

عابده ته دې خـــــاطر مه درنوه
که زه په سر د ګناه بـــــــار تړمه

غزل

که ستا تصویـــــر په هره لاره ګرځي
پـــسې زمـــا د زړه هینداره ګرځي

شپه کې د خیال په تږون ستا په لټون
راســـره ستـــوري تر سهار ګرځي

هوده د مینې پـــرې اثـــــر نه کوي
د سینې دښتې کې مې مـــاره ګرځي

څوک به مې ورد زړګي وتــــکوي؟
لکه زما څوک بیکراره ګـــرځـــي؟

د کوم حسیـــــن نوم یې پرډډ لیکلی
کاروان* چـــې داسې له چناره ګرځي

* زما خوږ ملګری پیرمحمد ((کاروان))

غزل

لاس او پښې وهمه سترې يم
مينې کې دې هسې اوبو وړې يم

مه مې غورځوه د غورځيدو نه يم
ومې کره شين به شمه زړې يم

مينه غواړم. زړه غواړم له ښکليو نه
سوال يمه لا هغسې نيمګړې يم

مه ويريږه، خوله مې نه شته نه دې خورم
زار نه لرم، مار نه يمه، پړې يم

ما باندې احسان چې وخته ونه کړې
زه مې د ژوندون پر اوږو مړې يم

سيورې مې پر سر د پسرلي* ګرځي
شکر د وږمو د بهير غړې يم

* استاد شاعر محمد صديق پسرلی يادوم

غزل

وتره مې په اوښکو کړه توده ځمکه
غم مې وکرلو په ښوره ځمکه

پام کوه قدم مې په زړګي مه ږده
يبلې پښې څوک کله ږدي په سره ځمکه

پرېږده چې دا وچې شونډې کېږدمه
ستا د رخسارونو په لمده ځمکه

څنګه به يې کر شيرازه کېږي نه !
موږه اوبه کړې په خوله ځمکه

تا ته به خوږه نشه د مينې شي
بنګ يمه پخېږيم په تره ځمکه

غزل

توبه مې وايسته سحر ويرېږم
چې له مغرب راخيژي لمر ويرېږم

په شوخ نظر چې راته ونه ګورې
له شوخو سترګو نه اکثر ويرېږم

پام چې د نه راتلو يې ونه وايې !
ريباره زه له دې خبر ويرېږم

لکه شبنم د ګل په پاڼه پاڼه
زه د تودوخې له اثر ويرېږم

د زړه زخمي کابل مې نور مه چيړئ
چيرته ناسور نه شي پرهر ويرېږم

غزل

بې له تانه ګرانه ډېره ګرانه زنده ګي ده
په مينه مينه وګوره جانانه زنده ګي ده

چې تا مينه راکړې ده، چې ته مې زړه کې اوسې
بس تا پورې تړلې مې آرمانه زنده ګي ده

د زړه پر للمه للمه مې جانانه راوريږه
په دښته د ګلونو له بارانه زنده ګي ده

حسين پړاو دې مخکې قدم په قدم اخله
دمه د يار په کلي شه ((کاروان)) زنده ګي ده

لمر غيږه خلاصه کړې ده ذدرې په کې غځيږي
سحر په مستۍ راغی څه روښانه زنده ګی ده

غزل

ستا په رخسار د غزل توري ناځي
که د آسمان په لمن ستوري ناځي

آرمان مې ستا لار ته ګوري ناځي
د زورور ډول ته کمزوري ناځي

د جانان یاد مې زړه ته داسې راځي
لکه له لمر چې ذرې اوري ناځي

د تخیل په تال مې زانګي
لکه زنځیر چې د ورښوري ناځي

د مینې باد په مازیګر راوله
په مازیګر د چنار سیوري ناځي

غزل

نن د آرمان کلي کې شپه تیروم
ځم د جانان کلي کې شپه تیروم

د زړه پر للمه به مې وټو کیږي
چې د باران کلي کې شپه تیروم

له پرښتو سره مې کړې وعده
د لوی آسمان کلي کې شپه تیروم

د ښار لوګو کې مې ساه تنګه شوله
یمه روان کلي کې شپه تیروم

چې تخیل مې د غزل رنګین شي
ځم د ((کاروان)) کلي کې شپه تیروم

باز محمد عا بد

غزل

له تندې مرمه خو روژه ســــــاتمه
په خم کې لامبمه توبه ســــــاتمه

یو لاس کې توره بل کې نیـــسم قلم
زه د خوشحال بـــابـــا ورثه ساتمه

په زړه کې لـــولـــم سیپارې د مینې
په تاخ کې بـــــنده خلاصه ساتمه

چیرته په غم باندې هم نه څخیـــږي
لیمه کې اوښکه پـــښتنه ســاتـــمه

چې مې شعور ته راشي شعر راکوي
پـــه لاشعور کـــــې پرښته ساتمه

باز محمد عا بد

غزل

د زړه زخمـــونـــه بـــه د زلفو په تار وګنډمه
د نظر ســـار بـــه د کـــلي په لار وګنډمه

چې زمـــانـــه پرې ګواهي زموږ د مینې وايي
د جانان نـــوم به په تنه د چنـار وګنـــډمـــه

څومره به ښه شي چې رنګونه د فطرت شي يو ځای
د لمـــر ذرې بـــه ګله ستا په رخسار وګنډمه

کسات به زه د خپل قـــاتل جانان نه څنګه واخلم؟
بس خو جنډه به د آرمـــان پـــه مزار وګنډمه

سل کـاله کيږي يو ظالم په بـــې رحمۍ شلولی
ځم چـــې د لر او بر د غرونـــــو پرهار وګنډمه

باز محمد عا بد

غزل

د نغمو له ښــــاره ساز و سامان راوړي
تخیل تــــــه مې سندرې جانان راوړي

په ورځ ستـــا د مخ خالونه زړونه یوسي
د شپې ستوري په لمن کې آسمان راوړي

د ښکلو کو خـط و خال وي په کې نغښتی
چې مهار د غـــزلونو ((کاروان)) راوړي

ته د خپـــــل حسن له زوره څه خبر یې؟
چې تـــور زړي در ته ګوري آیمان راوړي

د شهیـــد و ګلغـــوټـــیو جنازې وي
زموږ کلي ته یې غیږ کې باغـــوان راوړي

غزل

خیر دی که د ژوند په ژرنده دل شو مه
ستـــا ملالو سترګو ته کجل شو مه

چـا بـــه نثر چـــا به نظم وی
ستـا په خوله چې درغلم غزل شو مه

ځـــو مره ښه نازونه شو یو ځای سره
زه چـــې سیلنی ستا د وربل شو مه

یا د کلـــي خلکو واورئ مړ مې کړئ
مینه کې که خپل جانان ته غل شو مه

راشه چـې مې بې له تانه روژ نه ځي
ځو ځـــــلې میلمه که د اجل شو مه

غزل

مـــازيګر نـــه لري ګودر نه لري
زمــــــورږ کــلی خو اختر نه لري

مورږه په داســې چم کې ساه اخلو
چې ماښامـــونه يې سحر نه لري

پر ځـای د سرې يې بارود خوړلي
ځمکې مو شاړې شولې کر نه لري

مرګی پر مورږه د وير ساندې وايي
د ژونــد نغمې پر مورږ باور نه لري

جـــــانانه کله خو راپيښه وکړه
زمــــــا د زړه جونګړه ور نه لري

باز محمد عابد

غزل

لـــــه سازه مې د روح یوه نغمه چې راتله
کـــه ستا د نرګسي ګیسو وږمه چې راتله

حـــرم کې مې د زړه چې یو صنم دیره کیده
قـــــدم په قدم مخکې بتکده وه چې راتله

غبار د تصـــــور له آیینې مې چې صفا شو
د باد پـــه ځیر زما په لور هغه وه چې راتله

ستا نوم مې لا په ژبه باندې نه و پوره شوی
په شونـډو کې د مینې زمزمه وه چې راتله

تعبیر یـــې د سندرو د مغان له پیره غواړم
بیګا راتــه په خوب کې پرښته وه چې راتله

باز محمد عابد

غزل

له کوم ځنګله نه ورته لاره راځي
هره بلا مو چې تر ښاره راځي

د زړه پر ځمکه شنه کوي زخمونه
ښکلي له څه رنګین بهاره راځي

لکه چې خپل همزاد مې وموندلو
چې ورک تصویر ته مې هینداره راځي

د روح سرود مې ورته بین غږوي
د سینې دښتې ته م بېماره راځي

د زړه له شوره لا وتلی نه یم
د مینې غزله دې بازاره راځي

غزل

زما د ژوند د حسرتونو تن کې ساه مړه کیږي
لږ یې لاس ونیسئ ډیوه رپې رڼا مړه کیږي

هواګیر زړه مې داسې ولې د نظر په ګاټو
لکه ویشتلې مرغۍ ځرخې په هوا مړه کیږي

راته یو چا له میکدې نه د توبې وویل
ما ویل نه، نه رنګینه غوندې ګناه مړه کیږي

له خاورو پورته شه ملالې پیغلې چیغه وکړه
میوند خو څه کړې چې لا ټوله پښتونخوا مړه کیږي

خدایه د کومې ګناه غچ دې رانه دلته اخلې؟
لا مې آمین په ژبه ګرځي چې دعا مړه کیږي

غزل

لکه د وریـــځو غیږ کې لمر نیسم
پـــــــه تصور کې چې دلبر نیسم

دې ماښامونو راته هیڅ را نه کړل
د ښکلیو لار په سپین سحر نیسم

بیـــــګا مې ټوله شپه منتر ویلی
څـــوک په هوده کې د نظر نیسم

چـــــا رانه زړه لکه د غل وړی دی
ښکلیو کې ګورم څوک اوتر نیسم

چـې صحیفې ورته د مینې راځي
ځـــم چیرته دا سې پیغمبر نیسم

باز محمد عا بد

غزل

د روح بیــــن غـــــړو مـــه چیرته ماره لټوم
او بــــو غـــــوندې د غره لمن کې لاره لټوم

د باد په څیر چې ښکته پورته ګرځم لالهانده
تصــــویر لـــــه چا نه ورک یمه هینداره لټوم

چې زړونه تخنوي داسې نغمې درځنې غواړم
تـــــارونـــــــو کې دې هغه تار ستاره لټوم

اول بـــــه مې د زړه په دریڅو کې را پیدا شي
کــــــــه نه شو بیا به ستوري په کراره لټوم

سرونه به د ېر ګرځي خو چې زه پسې ګرځیږم
یــــو سر چـــــې سلسله یې ځي تر داره لټوم

غزل

د زړه ګریوان ته داسې اچوي نظر لاسونه
لکه د وریځو لمن وڅیري د لمر لاسونه

زه به یې هم د امتیانو صف کې ودریږم
که مې پر سر کیږدي د مینې پیغمبر لاسونه

خدایه د نور باران شیبه شیبه راووروه
بدرنګې شپې پر مرۍ ایښي د سحر لاسونه

د بې وسۍ مې جوړې پته تا ته نه لګیږي
ته چې ښیرو غځوې هر مازیګر لاسونه

زموږ په کلي کې د وینو د غچ زیري کیږي
د هر دریم سړي په وینو وي اکثر لاسونه

غزل

لیمو نه چې بهر شولې نظره چیرته ځې؟
له غرونو چې پناه شوې ښکلیه لمره چیرته ځې؟

څه رخه دې مئینو سره کیږي او که څنګه
ماښام ته چې نیږدې شوې مازیګره چیرته ځې؟

د زړه پر للمه دښته مې یو څوک خو رازرغون کړه
ایسار شه پسرلیه مروره چیرته ځې؟

څه ښه وو چې جانان په تصور کې راته ویلې
راځه کینه دمه شه زوروره چیرته ځې؟

د شر د سوداګرو قافلې بازار ته راغله
لږوار وکړه د امن پیغمبره چیرته ځې؟

غزل

ورانې مې کړې لاس کې د تلي کرښې
مه جوړوه مـــــاته په تندي کرښې

ښايي چې تصـــوير به جوړوي د چا
کاږي چې پـــر ځمکه ليوني کرښې

زړه کـــې زمـــا لارې تيروي ګله !
ستا په مخ چې راکاږي ازغي کرښې

پاڼه مې د ژونـــد پخپله توره کړه
هسې وايــــم دا دي ازلي کرښې

غزل

صنم مې زړه ته ځي راخي هردم په هره ورځ
پو ښتنه خو د ګل کوي شبنم په هره ورځ

هم هغه څو شیبې مې د ژوندون د خوشحالۍ وې
جانان چې راته راوړي نوی غم په هره ورځ

دا خلک خو ړانده نه دي چې ورته ښکارېږي
که څو مو په سرونو ږدي قدم په هره ورځ

دا څوک دي چې زخمونه پر موږ پلوري له پخوا نه
دا څوک دي رانه یوسي چې مرهم په هره ورځ

غزل

د ښکليو اننګوتـــــــــه مـــې نظر غځوي لاس
سپوږمۍ د څوارلسمې تـــــه خو لمر غځوي لاس

اوس ګورو به چې چـــــــا ده د قسمت لوبه ګټلې
د مينې پيغمبر د چا پـــــــه ســــر غځوي لاس؟

د کوم مئين په قتل پسې ووته لــــه کــــــوره
په ناز په کرشمه لکه خنـــجر غـــځـــــوي لاس

د چا د ګريوان تار تار يــــــې په ګوتو کې نيولی
دا شوخې شيوه ګـــــــرې خو اکثر غځوي لاس

که خدای کول جانان به مې لاسونو کې لاس راکړي
خلک وايـــــي چـــې اختر کې مرور غځوي لاس

غزل

یو څوک خو مې یو ځل د زړه په لار راواړه
خدایه په مئین زړه مې پرهار راواړوه

ښکلي دې په ځمکه داسې ګرځي لکه ستوري
یو څو خو پرې د مینې په مدار راواړوه

ساقي د میکدې نه دې نن تش لاسونه نه ځم
په لپو لپو سترګو کې خمار راواړوه

هینداره مې د زړه ورپسې ورکه ګرځي
تصویر پرې د کوم ښکلي پرې وار راواړوه

چې غرږ د ستار نه خیژي د څڼو څو تارونه
جانانه لږ په څانګه د چنار راواړوه

غزل

تارونه دې د زلفو پـــــه رخســـــار وزنګوه
پر غاړه مې لاسونــــــه لـــــکه هار وزنګوه

یو چا رانه جـــامـــــونـــــه د نظر وتښتول
بنګي آشنا په بنګو مې خمـــــار وزنـــګوه

د وړانګو په مهار کې د رڼا ((کاروانه)) راشه
حسيــــــــن سهار د ګـــــلي په چنار وزنګوه

جانانه هنــــګامه د مینې ورځ په ورځ سرېږي
یو سر خـــــو چیرتــــه نن سبا په دار وزنګوه

موسکا دې سندریزه کړه د ذوق پرښتې راشه
دردونه مې نغمه کــــــې د ستـــــــار وزنګوه

غزل

ښکلی شه، له خپل ښایست نه ښکلی شه
نن خو د غماز د سترګو خلی شه

زه ورنه په سترګو کې څه وغواړم
دی راته غوسه شي وايي، غلی شه !

ما د خپل بهير سره ملګری کړه
وخته ! لږ خو ماته پښه نيولی شه

زړکې يې امنو ته راغلي دي
بازه د وطن غرونو کې غلی شه

بيا به تصوير د کوم يو ښکلي راوړي
د زړه له کوره مې هينداره وځي

موږه د مينې دنيا هم وليده
د کار سړي په کې له کاره وځي

غزل

بیا څوک مئین د هوش له ښاره وځي
د لیــــونـــــو په ورکه لاره وځي

نغمې د مینـــــې لـــــه ستار وځي
که د درد څړیکه له پـــــرهاره وځي

دلته د مینې لیـــونـــــي او سیږي
دلته هر ستوری له مـــــداره وځي

له چا نه ښکلی جـــانان مخ اړوي؟
که د پاړو له هـــــودې ماره وځي

باز محمد عا بد

ماشومتوب

راته یادیږي هغه تیر وختونه
چې په غرمو به ګرځیدم، ګرځیدم
ستا په کوڅه کې به د چا له ویرې
لکه د پاڼې رپیدم، رپیدم

چې یبلې پښې به مې په ځمکه سرې شوې
پنا مې وړه ستا د دیوال سیوري ته
ستا د دیوال خوشبو به داسې مست کړم
لکه د ګلو د شمال سیوري ته

په لوړه تنده باندې نه پوهیدم
نه به غرمه نه مازیګر مې لیدو
ستا په لټون پسې به زه جانانه
ګرځیدم څو پورې چې لمر مې لیدو

خو

خو اوس د داسې وخت پنجو کې ګیر یم
چې مې په ګرانه تن ته ساه راځي
جانانه ستا په غم به څه وژاړم
چې په خپل ځان باندې ژړا راځي

غزل

له سرو سترګو تر سرو سترګو
پرون چې ما په آیینه کې کتل
راته کیسې د ماشومتوب یادې
زه به په چیغو چیغو کورته راغلم
مورجانې زه به ستا و لورته راغلم
زما به سترګې وې له خاوړ کې
هم به مې سر و له ګردونه ډک
تا به ناري کړې چې قربان دې شمه
بیا دې له چا پره شوخي کړې ده
تا به د خپل پوړني پیڅکي باندې
زما له سترګو خاورې پاکې کړلې
هم به زما له سره ټول ګردونه تا وڅنډل
راته به ستغې سپورې تا وکړلې
چې مخ او سر به دې راومینځلو
زما به سترګې تکې سرې ښکاریدې
تا به مې سترګې راته تورې کړلې

❋❋❋

خو نن چې بیا زما په سترګو کې د چا له غمه
وینو سیند بهیده
ما آیینې ته کتل
زما تصویر په آیینه کې زنګیده، زنګیده
ما ویل چې اوس به له هینداري نه راوښوییږي
تا راته څه په عاجزۍ وویل:
((زویه لوګې دې شمه ودې ګرځم

نوره د سرو سترګو دا لوبـــــه پـــــــریږده))

قطعات

سپرلیه هغه به زموږ د خــــوارو کـــلی وي چې
ګلونه ټول په وینو ســـره وي او بل رنګ نه کوي
دا زمانه لکه چې نـــور زمـــــوږ وجود نه مني
عجیبه نه ده چې احساس مو لا غور ځنـــګ نه کوي

***

وخت به موږ ته څنګه ګـــــلورینه فضا جوړه کړي
غږ د پسرلي خو له ورایــــه خــــزان وخاندي
لا د ګلغوټیو ستوني ډک دي له بـــــاروتو نه
تا ته به په کومه خوله سپرلیه ګلان وخـــــاندي

***

پام کوه سپرلیه چې زمـــــوږ کـلي ته رانه شې
ته به د باروتو دې وطن ته څــــه تحفــه راوړې
اوس زموږ د کلي چنارونه ځـــــالـې نـــه لري
ته به د بلبل د غم نوا تــــه څـــه نغمه راوړې

***

دلته د وخت د نابلدو خلکو خـــــوا کې اوسو
دلته کې موږه ساه په بیه اخلو ژونــــد تیــروو
دلته زموږ احساس بندي دی څه ویلی نــــه شـو
ترخې خبرې د هر چــــا لــکه د قـــند تــیروو

***

څنګه ژر مې د آرمـــان قـــاتل جـــوړیږي
محتسبه لا مې هـــــغسې ځـــــوانـي ده
د ښار مشره ستا د امن ښـــــاریـــــه کـــې
هر څه ګران د ســـرونـــو ارزانــــــي ده

***

پر سپین رخسار چې زلفې لام ولګي
لکه روژه کې چې ماښام ولګي
د تن رګونه مې موسکي موسکي شي
غږ چې په غوږ زما د جام ولګي

***

لمر چې د غروب په غرغره شي راته وخاندي
جوړه طبیعت کې نظاره شي راته وخاندي
سترګو د جانان که د مغلو خصلت غوره کړ
مینه پښتنه یې تاتره شي راته وخاندي

***

د انتظار په تریخ نظر کې مې لا
د امیدونو څه خواږه پاتې دي
وخته رفتار کې دې کرار راوله
ستا له منزله پښتانه پاتې دي

Download from: aghalibrary.com